مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۳/۰۸/۲۳

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال
## پينځم ټوک
دوه سوه او شپيتمه پرله پسي برخه

## کندهار

ايديت:
ډاکټر لودويګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**شاه مقصود**: ۵۳ – ۳۱، ۱۸ – ۶۵ «ن»: دا هغه غرنۍ لړۍ ده چې خاکريز له ملمند او غورک څخه جلا کوي او په خپلې شمالي انتها کې تر هغو کوتلونو پورې لويديځه کرښه جوړوي چې لام ته لاره ورکوي. په دې لړۍ کې عمده غرنۍ څوکې «تبه سار» [1] ده چې په سويل لويديځې انتها کې ئې ده، «برِکه» [2] د «لالک» [3] له پاسه، «لک شياه» [4] د «سپين خاک» [5] له پاسه، «شينيه» [6] د زيارتِ شاه مقصود له پاسه او «شاه بيد» [7] (۸۸۴۰ فيټه لوړه) چې د دې لړۍ تر ټولو لوړه څوکه ده د «تنګريز» [8] له پاسه. تر هغه ځايه چې موږ ته معلومه ده د اساسي لړۍ په منځ کې کوم کوتل نه سته؛ خو لينس وايي چې داسې پل - لارې په کې سته چې د «برکې» او د «لک شياه»غرنيو څوکو ته ته نيږدې دي چې پورته ئې نومونه ياد سول او په پښو پليو کسانو ته د تګ لپاره پل لارې سته او هم د دې لړۍ په شمال ختيځې انتها کې يوه لاره تللې ده لکه: د «لک شک» [9] له لارې له «سرِخار» (يا سرِ کال؟) [10] تر «غورک» پورې، همدا شان هغه کوتلونه چې په لام منتهي کيږي

1 - Tabasar
2 - Berkah
3 - Lalak
4 - Lakshiah
5 - Spinkhak
6 - Shiniah
7 - Shahbed
8 - Tangrez
9 - Lakshak
10 - Sar -i -Khar (or Sarikal?)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اود «حاجي درخت» [11] او «سیاه سنگ» [12] تر نوموںو لاندې شرحه سوي دي. همدا شان د دې لړۍ په سوېل ختيځې منتهى اليه کې لارې سته چې هلمند ته تللي دي. په دې غرنۍ لړۍ کې کوم ځنګل نـهٔ سته. خو د «شاه بيد» او «لک شياه» د غرنيو څوکو په ګاونډ کې د نښتر ونې سته او ډيرې لويې لويې ونې دي. د دې لړۍ څو برخې په منرالونو بدايه دي. د شاه مقصود د غرونو تر ټولو د پام وړ جنبه يوه لوړه سطحه ده چې ۲ مايله اوږد والى او څه دباندې يو مايل ارتوالى لري «لينس وايي ۴/۳ د مايله ارته او ۳ مايله اوږده ده» او د خط الرأس تر شمال ختيځې ډډې لاندې واقع ده چې «شينيه» ئـې تر ټولو لوړه څوکه ده او ويل سوي چې دا ځاى د سناتوريم لپاره مناسب ځاى دى او لوړوالى ئـې د سمندر له سطحې ۶۰۰۰ يا ۷۰۰۰ فيټه دى. خاوره ئـې ګرانيټ ده او سطحه ئـې مخ خلاصې او ښپانده ده او له منځه ئـې نالي تيرې سوي دي چې د جنرال پاليسر د ځواک د کشف قطعې د اپريل د مياشتې په پاى کې په کې ښې اوبـهٔ وموندلې او ويل سوي چې اوبـهٔ ئـې تلپاتې دي. دا لوړه سطحې په نرمۍ سره شمال ختيځ لور ته شيوه سوې دي او همداسې غځيدلې دي چې د خط الرأس په اوږدو کې په دې لور په تدريج سره تنګې کيږي. دلته ونې په قلت کې دي خو د سون توکو لپاره پريمانه بوټي سته چې د دې غرنۍ لړۍ په شمال لويديځې انتها کې د «دَرِ بادام» په شا و خواوو کې موندل کيږي. (آسمان زيو «هوتکو») [13] په کوزنۍ انتها کې د ځمکې کوچنۍ ټوټه کرلې ده، دوى له دغو غرونو څخه سون بوټي او رواش راټولوي او په سمڅو کې واروه زيرمه کوي او بيا ئـې د کندهار په مارکيټ کې پلوري. دې لوړې سطحې ته له څو لارو ختل شوني دي، يوه لاره ئـې له زيارتِ شاه مقصود څخه له سوېل ختيځ لوري ده او ويل سوي چې د آس سپرو لپاره د زغم تر کچې آسانه لاره ده چې د لړ کار په کولو سره به ډيره ښه لاره ورڅخه جوړه سي. دوهمه لاره چې د باروړونکو کچرو د تګ لپاره عملي لاره ده دې سطحې ته د «انارک» يا «درويشان» له کلي څخه راغلې ده؛ او دريمه لاره له شمال لويديځ اړخ څخه د «سريکال» [14] د کلي له څنګ څخه راغلې چې ډيره آسانه لاره ده چې د ډير لږ کار په کولو سره د اوښانو د تګ لپاره ورڅخه عملاً ښه لاره جوړيږي.

د خاکريز د درې په لويديځې خوا کې د شاه مقصود زيارت دى چې له «چنار» څخه ۱ مايل پورته د «اسد د کلا» د لارې پر غاړې په هغـهٔ ټکي کې واقع دى چې پورته شرحه سوې لوړې سطحې ته يوه ډيره ښه لاره ختلې ده.

دا زيارت د ډير درناوي وړ زيارت دى او ډير خلک دغـهٔ زيارت باندې رامات دي. دلته د خلکو سترې غونډې يا ټولنې سره راټوليږي او په زرهاوو خلک معمولاً د اکتوبر د مياشتې په پيل کې په کې ګډون کوي. «لينس، آى. بي. سي.»

* **شاه مشهد**: ۵۵ – ۳۲، ۳۲ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د هلمند او د «سخر» [15] د سيندونو د يو ځاى کيدنې په ټکي کې يو کلى دى.

**بنامير**: ۳۱ – ۳۱، ۹ – ۶۵ «ج»: دا د عطاء د کاريز د کمپ د سيمې د سوېل په تقريباً ۱ مايلې کې يو کلى دى، دا کلى د کمپ له سيمې څخه ټيټو غونډيو جلا کړى دى او د بست تر کلا او ګرشک پورې سړک د دې کلي له څنګه تيريږي، دا سړک د ارغنداب د سيند د ښې غاړې په اوږدو کې د حوض مد د له لارې سره موازي پرمخ ځغلي. د دې کلي وګړي چې

11 - Haji Darakht
12 - Siah Sang
13 - Asmanzai (Hotaks)
14 -Sarikal
15 - Sakhar

شمیر ئـې تقریباً ۲۲۴ تنه دی او نورزي او اسحق زي دي په ۱۸۷۹ – ۸۰ ز کال کې ډیر ښه خلک او د برتانویانو پر وړاندې د ښـهٔ چارچلند خلک ویل سوي دي، دوی د کرهنې لپاره پریمانه ځمکه لري چې غنم او وربشې په کې کري او د یوهٔ نهر په اوبو خړوبیږي چې د کلي له منځه تیریږي. له وروسته یاد سوي ځای څخه یوه لاره حوضِ مد د خان ته تللې ده. بیلو د «شاه میر او باغ مریز» [16] په هکله وایي چې دا کلي د کوچنیو کلیو او ښونو یوه ټولگه ده. «بیلو، میټلند»

**شاه مـحمد**: ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا د قلات غلزایي د سړک پر غاړې له کندهاره تقریباً ۲۳ مایله لیرې په دامان کې یو کلی دی. «بیسکو» *په دې نوم یو کلی چې د یار محمد خان د کلي په نوم هم یادیږي په ۵۸ – ۲۹، ۵۹ – ۶۵ «الف» موقعیت لري.*

**شاه مـحمد**: ۵۹ – ۲۹، ۰ – ۶۶: دا له صاحب زاده څخه څو سوه یارده لیرې د تقریباً ۵۰ جونگړو یو کلی په ښوراوک کې دی. «آی. بي. سي.» *په دې نوم یو کلی د جلدک په سویل لویدیځ کې په ۴۱ – ۳۱، ۳۶ – ۶۶ «ج»*

**شاه پسند**: ۹ – ۳۱، ۲۷ – ۶۶ «ج»: دا یو کلی دی چې له منځه ئـې له سربلند څخه تر ډبری پورې سړک، وروسته له دې تیریږي چې د لوی کاریز له کمپه ووځي.

مسي وایي چې د سرتیرو لپاره د اړتیا وړ توکي په لوی کاریز کې د نورو کلیو له منځه راټولیدای سي.«مسي» *په دې نوم بل کلی په ۵۸ – ۳۱، ۲ – ۶۶ «ج» کې واقع دی.*

**شاه پسند**: ۵۷ – ۳۱، ۲ – ۶۶ «ج»: دا د ډوری د سیند پرښی غاړه یو کلی دی چې استوگن وگړي ئـې «گورک نورزي» [17] دي چې د کشوبي «خوړې اوبـهٔ - ژ» د یو ځای کیدنې له ټکي څخه تقریباً ۴ مایله کښته واقع دی. دا نومونه ډیر گډوډ دي؛ **شاه پسند**: ویل سوي چې چې د حوض د سویل په ۴ مایلۍ کې دی خو دا نوم ډیري کسان د حوض په نوم یادوي حال دا چې حوض په خپله د اوبو یوه گنبدۍ لرونکې زیرمه ده چې د شاه پسند په نوم د علاقې د یوهٔ تنگي په بیخ کې واقع ده. په شاه پسند کې اوبه چې له یوه نهر څخه دي د څښلو لپاره مناسبې دي؛ بهوسه او لرگي ورڅخه ترلاسه کیدای سي؛ د سیند په بستر کې د شین غزي یو شمیر بوټي سته او هم په شاو خوا سیمې کې «قیصوم» [18] بوټي د اوښانو لپاره نسبتاً ښـهٔ اوښ څړ برابروي. د کمپ په بلافاصله شمال لویدیځ کې یو شیوه غر ښکاري چې له څو مایلو لیرې له ورایه ښکاري او له لیرې لارې څخه یوه نـښـه جوړوي. «لو مسوریر»

**شاه پسند**: ـ ۳۱، ـ۶۵: دا بابا ولي ته نیږدې د کندهار د شمال لویدیځ په ۴ مایلۍ کې یو کلی دی. «بیسکو»

**شهرِ کهنه**: ۳۷ – ۳۱، ۵۲ – ۶۵: دا د کندهار د لویدیځ په ۱/۲ ۲ مایلۍ کې یو کلی دی. دا د کندهار زوړ ښار دی چې نادر شاه په ۱۷۳۸ز کال کې د غلزیو له لاسه ونیو او وران ویجاړ ئـې کړ. «بیسکو» *په دې نوم بل کلی په ۲۱ – ۳۲، ۵۹ – ۶۴ «الف» کې واقع دی.*

**شهرِ صفا**: ۴۸ – ۳۱، ۱۹ – ۶۶ «ن»: لوړوالی: ۴۲۲۰ فیټه. دا یو کنډواله کلی دی چې خپل نوم ئـې د کمپ یوې سیمې ته ورکړی چې کندهار ته د راغلي سړک پر لارې له قلات غلزایي څخه ۴۵ مایله لیرې موقعیت لري.

پر هغې ځمکې باندې چې د ۱۸۷۹ز کال د جنوری په میاشت کې د جنرال سټیوارټ ځواک قرارگاه جوړه کړله د ترنک د سیند له ښی غاړې څخه ۴۰۰ یارده او د کلي د ختیځ په ۱/۲ مایلۍ کې ئـې موقعیت درلود. اوبـهٔ ئـې چې له سیند څخه

---

[16] - Shah Mir and Bagh Marez
[17] - Gurak Nurzais
[18] - southernwood


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دي پريمانه دي او د زاړۀ کابل د جګړې د مهال په شان د دې ځای سون توکي د سيند پر غاړه شين غزي او د قيصوم بوټی دي. د اړتيا وړ توکي په ندرت تر لاسه کيږي خو وابښۀ او د اوبښ ځرځايونه ئې پريمانه دي. د تير انداز د کمپ تر سيمې پورې واټن ۱/۲ ۱۰ مايله او د خيل آخوند د کمپ تر سيمې د يوۀ روايت پر بنسټ ۱۱ مايله او د بل روايت پر بنسټ ۱۲ مايله دی. «آی. بي. سی.»

*** شهرستان**: ۴۱ – ۳۳، ۳۳ – ۶۶ «ن»: شهرستان د روزګان په ولايت کې د يوۀ کلي او يوې ولسوالی نوم دی. دا ولسوالي ۴۶۹۵ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمير ئې افغان سرچينو د ۲۴۱۶۴ او د ۲۸۴۷۹ تنو تر منځ اټکل کړی دی. دا ولسوالي په لويديځ کې له د ډای کنډي، په شمال کې د ورس، په ختيځ کې د ناوې او په سويل کې د ګيزاب او آجرستان له ولسواليو سره ګډه پوله ده. د شهرستان ولسوالي ۱۱۷ کلي لري چې ۶۹ کلي ئې له ۵۰۰ ډير وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| عشقر آباد | اميچ صد خانه Amich -i -Sad Khana, | بارگر | اونه «وانه بارگر» Owna (Wana Bargar) |
| اشکه/عشقه Ashka | والقان «الگان» Walqan (Algan) | رباط | ايسپلان Ispalan |
| اونه Owna | احسار Ihsar | بوم شير Bumsher, | نای قول Nai Kol |
| تای رباط «تيرآبت» Tai Rubat (Tirabat), | چارشنبه «چار شير» | خواله گک Khwalagak | ديکټر Dictur |
| زيارت | سرخ جوی | کلان قول | ورسال «واصل رباط» |
| ورس | اشتو Ashtu | ميرامور | اسکانِ ميرامور «اسکانِ ميراسکي» Askan -i- Miramor (Askan -i- Miraski) |
| اميد | اسپوک Aspuk | باغ | باقرک |
| سنگان | شاهره Shahra | سد خاک | کنغور Kanghor |
| فولاد | ککرک | مَی دره «نای دره» | چولونگ Chulung, |
| ورسِ اسکان | سرباغ | وانکه Wanka | سرخ بيد |
| بَر ونگِ عاشور | سيد احمد | بارگرِ حسن رضاء | تی راۀ بارگر |
| سيد چوبِ لرگر «سفيد شينه» | سياه دره | سفيد سنگِ سياه دره | شينـۀ بارگر |
| شينـۀ سرگر | شور آبِ سياه دره | غر غرۀ سياه دره | کته سيب بارگر «کته سيبِ سياه دره |
| قولِ بارگر | ناليچ بارگر | جوز بارگر | سنگر کشِ بارگر |
| چارصد خانه | نهالِ چار | وتنـۀ چار | بالا قول |
| نيک چارصد خانه | چار اسپان | سفيد نيل | گاو شاخ |
| پاله ليچ لرگر | پيتابِ لرگر َ«سرگر» | شينـۀ لرگر | الوک Alwak, |
| تگاب «تگابِ سرگر» | پاليچ | تخاوي | تگاب لوَر |
| جنگلک | جوجان «چوچان» | چپراسک Chaprasak | چرخ بارگر |
| خواجه چاشت/ چشت | ديوان غولگه | جم لوق Jamluq | مملوک |
| کوک دره | الوک | سيل بُرده «وگورئ بورده» | اوشو ديوان غولگه |
| زر داني | شاليج صد خانه | شيرمه | شينـۀ علي خان |
| سرفِ صد خانه | غسور Ghasur | گاو چن Ghawchan | غاف Ghaf, |
| زِنجوک Zenjuk, | غيبي لرگر | کته سنگ | کج گير |
| قيليچ | کته وت Katawot | مير غلام | مُهر Muhr, |
| منگور Mangur, | نادک Nadak, | وَرَسِ سفلی | ورغه Wargha, |
| وَرَس عليا | عاشوی الودال «واشوی آلو دال» | چوک شهر | چوک شير |
| تاق چنار | پايک | منفور | جلوق |
| منار دره | | | |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

* **شاه توت**: ۴ – ۳۲، ۱ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کې لوی کلي ته نیږدې د ارغنداب د سیند د یوې څانګې پرغاړې یو کلی دی.

**شهزاده**: ۳۶ – ۳۱، ۵۲ – ۶۵: بریدمن تمپل دا کلی د دمي نیولو د لومړي ځای په توګه یاد کړی چې له کندهار څخه ختیځ لور ته د ۸ مایلو په واټن د ارغسان په درې کې د دِهٔ نو او د امین د کلا د لارې پر سر واقع دی. ویل سوي چې دا یو کوچنی کلی دی او ښـهٔ د اړتیا وړ توکي پـه کې سته او اوبـهٔ ئـي له کاریز څخه دي. د ۱۸۷۹ز کال د فبرورۍ په میاشت کې له دې کلي څخه د اړتیا وړ یو شمیر توکي لکه بهوسه، وربشې، شیدې او نور ترلاسه سول او په نیږدې ګاوڼډ سیمه کې د اوبښ څړ لپاره هم ځای وو. تر «محمد» پورې واټن چې د همدې سړک په اوږدو کې د د مې نیولو دوهم ځای دی یوازې ۲ مایله لیری دی. «تمپل»

* **سیګان**: شیګان: ۴۰ – ۳۲، ۹ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د سیګان د تنګي د یو ځای کیدنې په ټکي کې د ارغنداب د سیند پر غاړه یو کلی دی.

* **شیخ**: وګورئ: شیخ

* **شیخان**: ۴۶ – ۳۲، ۱۳ – ۶۷ «ن»: دا د ارغنداب د سیند پر غاړه د زابل په ولایت کې د جنګلي په مخالف لور کې یو کلی دی. په دې نوم بل کلی د ارغنداب د سیند د یوې څانګې پر غاړې د زابل په ولایت کې د «چالبار او کیشخته» [19] تر منځ په ۲۵ – ۳۲، ۲۲ – ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.

* **شیخ خیل**: ۱ – ۳۲، ۳۸ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې «لوی کلي» ته نیږدې د جهانګیر د سیند د یوې څانګې پر غاړې یو کلی دی.

* **شینه**: ۴۵ – ۳۳، ۴ – ۶۷ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «بارکر» [20] په سیمې کې د هلمند د سیند د یوې څانګې پر غاړې یو کلی دی.

**شجني** [21]: دا د ارغنداب په درې کې د میزان د ولسوالی یوه علاقه داري ده. «بیسکو»

**شکر ګنج**: ۴۰ – ۳۱، ۵۸ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار د ختیځ - شمال ختیځ په ۱۴ مایلی کې یو کلی دی. «بیسکو»

* **شکسته مانده**: ۳۷ – ۳۲، ۹ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې نیک نام ته نیږدې یو سیند دی چې ارغنداب ته ورغورځي.

**شیخچاله**: وګورئ: شیخ چاله

**شلواتو**: دا د بلوڅ د سرحد پر غاړه د ۱۰ خاصه دارانو یوه پوسته ده. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵»

**شمکی**: دا یوه ناله ده چې د کدني له ښی غاړې سره له دوبندي تقریباً ۴ مایله کوز یو ځای کیږي. د دې نالي خولې ته نیږدې د کمپ لپاره ځای سته. لوړوالی ۵۳۵۰ فیټه. «بن»

**شامي زي**: **شمه زي**: **شمو زي**: دا د پلوپلزي درانیو یوه څانګه ده. «بیسکو» *په دې نوم نور کلي په ۲۴ – ۳۱، ۴۲ – ۶۶ «الف» او ۴۷ – ۲۹، ۵۶ – ۶۵ «ن» کې موقعیت لري.*

---

[19] -Chalbar and Keshkhata,

[20] -Barkar

[21] -SHAJNI


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**شمو آخوند زاده**: ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا د تراب د کاریز د شمال په تقریباً ۱ مایلۍ کې د کندهار د ختیځ په تقریباً ۶ مایلی کې یو کلی دی. «بیسکو»

* **شمو زي**: ۶ ــ ۳۰، ۵۹ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د ښوراوک په ولسوالۍ کې د «منديزي» [22] د شمال په تقریباً ۵ مایلۍ کې یو کلی دی.

**شمشیر کاریز**: ۲۶ ــ ۳۱، ۳۵ ــ ۶۵: دا د کندهار د سویل ــ سویل لویدیځ په تقریباً ۱۳ مایلۍ کې او د ډورۍ له ښۍ غاړې څخه ۲ مایله لیرې له غونډِ منصور څخه تر ګورنګ او ترنک پورې د تللي لارې په اوږدو کې یو کلی دی. دا سیمه ښه کرل سوې ده او د کاریز په شمالي خوا کې د کلي د سویل ختیځ په ۲/۱ مایلۍ کې د کمپ وهلو ښه سیمه سته. د غونډ منصور او د شمشیر کاریز له منځه لاره همواره او تر ډورۍ پورې آسانه ده چې د وروستي یاد سوي کلي له سویل څخه له سطلان محمد ورهاخوا تیرېږي یوازینی مانع د ترنک دسیند دنګي غاړې دي چې انګوریانو ته نیږدې ورڅخه تیرېږي. «هنل»

شمشو زي: دا د اڅکزیو یوه څانګه ده.

* **شمـُـلزي**: شومول زي: ۵۴ ــ ۳۱، ۴۰ ــ ۶۷ «ن»: شملزي د زابل په ولایت کې د یوهٔ کلي او یوې علاقه داری نوم دی. دا علاقه داري ۳۰۶۹ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمیر ئـې افغان سرچینو د ۷۵۷۲ تر ۸۳۷۸ تنو تر منځ اټکل کړی دی. دا علاقه داري په لویدیځ کې د اتغر او شینکۍ، په شمال کې د ناوې، په ختیځ کې د وازې خوا له ولسوالیو سره پوله لري او په سویل کې له پاکستان سره «کرښه ــ ژ» لري. د شملزیو علاقه داري ۱۵۰ کلي لري چې یوازې یو کلی ئـې له ۵۰۰ ډیر وګړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي :

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لټک کلا | | محمد میر | | نبرهو کلا | Nabarhu | چنار کلا | |
| جهانګیر | | ماشي زي | Mashizai | نات خیل | Nat Khel | سپیني خوني | |
| بابل «بابله» | | جنګي خیل | | قریـهٔ آخوند | | چینه | |
| ولي کاریز | | کتالي «کاچلي» | Katalai (Kachlai) | غبرګی زي «نوروزي ژوس» | Ghbargay Zhis (Nawrozi Zhus) | سعد الله کلا | |
| راندي «آندي» | Randai (Andi) | عزیزالله کلا | | لودین ناوه «لودین» | | مُلکي زي «مَلکزي» | Mulkizai (Malikzai) |
| احمد کلا | | عاشق کلا | | کرم خیل | | سهاک کرم خیل «اول خیل» | |
| باري | | کیختو زیچ | Kaikhtu Zich | ورغر | Warghar | سینزي کایختو | Sinzai Kayakhtu |
| خلیلي | | علي تالیري «علي کري زیچ» | Ali Talirai (Ali Karizich) | چینه زیچ | Zich China | بابو لواړګي | Babu Lowargai |
| شیخو لواړګي «کختو لواړګي » | Shaikhu Lowargai (Kakhtu Lowargai) | جاله زي | Jalazai | قلعـهٔ کریم « قلعـهٔ کـَـرَمِ لواړګي» | | ډنګر | |
| اما زي | Amazai | متاوه | Matawah | تالیري لواړګي | TaliriLowargai | عمر خیل | |
| والـهٔ کیختو | Wala Kayakhtu | والــهٔ | | نورخان | | ګاډی | Gaday |

22 -Mandezi



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Jamiat | جميت | Chawdi Jamiat | چاودي جميت | Naharah | نهاره | Koti Darwazah Gai | کوټي دروازه ګی |
| Panzo | پنځو | Mula Khamu | ملا خمو | سرخ ناوه | | ملنګ خيل «ملک خيل» | |
| ناسو زي | | سلطان زي ناوه | | سينزي ناوه «ياسين زي» | | قلعهٔ خليل جميت «خليلي جميت» | |
| ملا اورنګ | | Chiniwal | چيني وال | Mafiyan | مافيان | Bazargai | بزرګي |
| Jelgai | جلګی | فتح محمد خان کلا | | Zhawarah Kashani | ژوره کاشاني | Tor Ragha Kashani | تور راغه کاشاني |
| Kalizai | کالي زي | Jalu | جالو | Gaido (Gado) | ګی دو «ګدو» | Katul Khan | کټول خان |
| عبدالرحمن خيل | | حيدري مانده | | غټ بټه خيل «غټ» حيدري | | Turoki | تو رو کي |
| ګردی مارغه | | سيدان خيل | | Paya Khel | پايه خيل | Koghi | کوغي |
| لودين | | سين زي | | غبرګي شملزي | | Taru Khel | تارو خيل |
| Shahu Khel (Shad Khel) | شاهو خيل «شاد خيل» | Aisi Khel | آيسي خيل | Manjar Khel | منجر خيل | زړه کلا | |
| سپينهٔ عليا | | Kalomi | کلومي | سرخي تنګي | | Khusti | خوستي |
| Chashma -i- Babakri | چشمهٔ بابکري | Safiyan | صافيان | شاه ولي «شاهوال» | | سپينهٔ سفلی | |
| Chalo Khel(Chal Khel) | چالو خيل «چال خيل» | يحيی خيل | | ناصر خيل | | Astaryani Kala -i- Rashid (Mani- Kalai- Rashid) | استرياني قلعهٔ رشيد «ماني قلعهٔ رشيد» |
| Kokali | کوکالي | Zhich | زيچ | Tazo Khel | تازو خيل | Mali Khel | مالي خيل |
| نصرالله خيل | | Sukhandar -i- Kalan | سوخندر کلان | Lowal Murgha (Kala Tuy -i -Lowal Murgha) | لوړ مارغه « کلا توی لوړ مارغه» | Sukhandar -i- Khurd | سوخندرِ خورد |
| کاريز علاقه دار | | Deh Khairo wa Batu Khel | دِهٔ خيرو و بټو خيل | Saway Shamolzai | ساوي شملزي | ابراهيم زي | |
| Multani | ملتاني | Godi Khel | ګودي خيل | Shama | شامه | ملا عالِم | |
| Sur Galai | سور ګالي | Mashkuni (Mashkanal) | مشکوني «مشکانال» | علي خيل | | Ab Bazi (Rabazi) | آب بازي «رابازي» |
| Bai Khan Khel | بای خان خيل | خيلِ صاحب جان | | Poti | پوتي | Chogai | چوګي |
| موسی زي | | Anizai | آني زي | Bata Khel | بټه خيل | قلعهٔ شهاب الدين | |
| Mokhi Nawah | موخي ناوه | Nili Nawah | نيلي ناوه | Sardeh Nawah | سردِه ناوه | Chambar Roghani | چمبر روغاني |
| Sinzai Saram Takhtu | سين زي سرم تختو | Manki Nawah | مانکي ناوه | SaramTakhtu | سرم تختو | قريهٔ ايوب زي ناوه | |
| Ghundi | غندي | قادر خيلِ لواړ مرغه | | زعفران خيل | | اول خيل ناوه | |
| Alika Ulya | عليقهٔ عليا | شکور کلا زيارت | | بټه خيل زيارت | | Trichi Kashanai | تري چي کاشاني |
| سلطان زي دلاور | | محمد لوړ مارغه | | Chashma -i- Hasti | چشمهٔ هستي | Alika Sufla | عليقهٔ سفلی |
| Taraki Zhawarah Zhich | تره کي ژوره زيچ | چمبرِ فيض محمد خان | | Char Shamulzai | چار شملزي | Surghat | سورغت |
| Sawi | ساوي | Chatrai | چتري | Naorakzai | نـوَرَک زي | چينه سرخ آب | |
| تنګ قلعه | | حليم خيل | | Serkai Roz | سيرکي روز | Shebarzai | شيبر زي |
| Alozai | آلوزي | سيد غفور خيل | | Kashani Zich (Kashfi Zich) | کاشاني زيچ «کاشفي زيچ» | Laiwanai Zich | ليواني زيچ |
| اسمعيل زيچ | | نوروزي زيچ | | لواړګي چينه | | تنګي | |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Natori Burich | ناتوري برېخ | آخوند خيل | | Emran Kaikhtu | عمران کيختو | Shaho Bandi | شاهو بندي |
| Murghi Kala -i- Rashid Gandin | مرغي قلعهٔ رشيد ګاندين | Jangi Barich | برېخ جنګي | Khel -i- Barich | خيلِ برېخ | Barich Jangali | برېخ جنګلي |
| Shin Chala | شين چاله | غبرګۍ | | قلعهٔ رشيد چمبر | | Kala -i- Rashid Mat | قلعهٔ رشيد مات |
| Kassa | کاسه | Sur Gari | سور ګړی | Sasli | ساسلي | سيدان درختِ يحيی | |
| زيچ | | والـهٔ | | Katalai | کتالي | Surki Zhawarah | سرخي ژوره |
| Kariz -i- Sarjenab | کاريز سرچيناب | جوهر قلعهٔ رشيد عثمان خيل | | ابراهيم خيل | | روز زيچ | |
| | | Kalagi | کلاګۍ | خليل جنګي | | Awal Barich Ab | اول برېخ آب |

* **شرابان**: ۴۳ ــ ۳۲، ۱۸ ــ ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د «ګنبد» [23] د سيند پر غاړه د «شاه بيدک» د سړک پرغاړې يو کلی دی.

* **شره خان**: ۲۷ ــ ۳۱، ۲۴ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د ډورۍ د سيند پر غاړې د ارغنداب له سيند سره د يو ځای کيدنې د ختيځ په تقريباً ۱۳ مايلی کې يو کلی دی.

* **شرن**: په دې نوم څو ځايونه په دغو ځايونو کې: ۱۱ ــ ۳۱، ۲۰ ــ ۶۶ «ن»، په ۳۶ ــ ۳۱، ۵۰ ــ ۶۶ «ن»، او په ۲۶ ــ ۳۱، ۳ ــ ۶۷ «ن» کې موقعيت لري.

* **شرن توری**: دا د زابل په ولايت کې د «کلا» د سويل لويديځ په تقريباً ۱ مايلي کې او د قلات د شمال لويديځ په تقريباً ۵ مايلی کې يو کلی دی.

**شرن توی**: ــ ۳۱، ــ ۶۸: دا يو سيند دی چې د «ګردي پينکي» [24] له دښتي څخه راپورته کيږي، دا سيند د ۱۳ مايلو لپاره د بهيدلو سويل ختيځ لوری نيسي او ورپسې د سنځلي له نالي سره يو ځای کيږي او بيا په «پريکير» [25] کې د قنديل له سيند سره يو ځای کيږي. دا سيند له خپلې سرچينې څخه ۹ مايله کښته په ټيټو غرونو کې محصور دی خو په «شرن توی وار» [26] کې سيند له يوهٔ حلقي تنګي راوځي چې همدلته غرونه لوړ او ګړنګونه لري. اوبـهٔ ئـې نسبتاً لړ او تروې دي. د کندهار له درې څخه تر «تره کي تيورې» پورې د قافلو لاره د نالي په بستر کې پر مخ تللې ده. «بن» د شرن توی پر غاړه د ۲۰ خاصه دارانو يوه پوسته هم سته. «آی.بي. سي. ۱۹۰۵»

# نور بيا

**شربت پوتي**:

**يادونه**: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د بناغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک او د ځلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

23 - Gunbad
24 - Girde Pinakai plain
25 - Prekare
26 - Sharan Toi War


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزو بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ